# گاونډیان د خلا له رامنځته کېدو نه کرکه لري

## تر ۲۰۲۱ ز . کال وروسته په افغانستان کې د سیمه ییزو او کلیدي شریکانو ښکېلتیا

انډریو واټکینز ، تیمور شاران



FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

# گاونډیان د خلا له رامنځته کېدو نه کرکه لري

# تر ۲۰۲۱ ز . کال وروسته په افغانستان کې د سیمه ییزو او کلیدي شریکانو ښکېلتیا

انډریو واټکینز ، تیمور شاران

۲۰۲۱ ز. کال د مارچ میاشت

# د مطالبو لړلیک


| | |
|---|---|
| د پیل خبرې: | ۴ |
| سریزه: | ۵ |
| د له کاره اچولو لړۍ | ۷ |
| د واشنگټن د جاذبې ځواک | ۷ |
| د دومینو اغېزو له منځه وړل | ۸ |
| د بایډن تر ادارې لاندې هیله او که شک | ۹ |
| سیمه ییز مسوولیتونه | ۱۰ |
| د شمالي پولو ښار | ۱۰ |
| په سویلي آسیا کې د Zero-sum"" استراتیژۍ | ۱۱ |
| د متحده ایالاتو وتل او د ایران ننوتل؟ | ۱۱ |
| د کډوالو جریانونه او څپه ییزې اغېزې یې: | ۱۲ |
| د سولې بهیر او د امتیاز ترلاسه کول؟ | ۱۲ |
| د شرطونو اېښودل | ۱۳ |
| د کابل امنیتي مرستې د چارو بېلګې متنوع کول | ۱۳ |
| دیپلوماتیکه ایستنه: | ۱۵ |
| د خوندي کولو په توګه مشروط کول: | ۱۶ |
| نوې جوړښتونه؟ | ۱۷ |
| د اروپایي ټولنې پالیسي جوړوونکو لپاره وړاندیزونه او سپارښتنې | ۱۹ |
| سرچینې: | ۲۱ |

# د پیل خبرې

د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ ز. کال په فبروري کې د هوکړې لاسلیکېدل، چې د افغانستان د نړیوالو اړیکو په برخه کې یو مهم څه ګڼل کېږي. دا د زیاترو څارونکو لپاره له حیرانتیا ډکه نه وه، ځکه متحده ایالات تر ډېره په دې هڅه کې وه، چې څرنګه کولی شي، د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږده جګړه یعنې د افغانستان له جګړې څخه خپله پښه وکاږي. د دغه سیاسي هوکړې په ګټه د اوسني وضعیت تغییر او ساتنه، البته یوې سیمه ییزې اجماع ته اړتیا لري.

خو دغه چاره باید یوه بدیهي چاره ونه ګڼو، یا یې د یوې خطي لړۍ په څېر یې وګڼو. په داسې حال کې، چې دا ټولو منلي، چې له افغانستانه د متحده ایالاتو وتل، په آسیا کې د امنیتي فضا مهم عامل دی، بیا هم د سیمې امنیتي پایلې لا روښانه نه دي. هغه سناریوګانې، چې د افغانستان ګاونډیان یې په دغه هېواد کې د ځانونو لپاره ترسیموي، یا هغه فرصتونه چې دوی غواړي، ترې ګټه واخلي، کوم دي؟ د متحده ایالاتو وتل، څرنګه کولی شي د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د اوسني نړدېوالي او تخاصم پر ډینامیک اغېزه وکړي؟ د اروپا د ګټو لپاره په سیمه کې کومې سناریوګانې موجودې دي؟

«له ابهامه تر استراتیژۍ پورې: د افغانستان په سیمه کې د راتلونکي بریا - بریا سناریوګانو احتمالات څه دي؟» د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه او بې پرې هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیانو لپاره احتمالي سناریوګانو او د اروپا د پالیسی جوړوونکو ترمنځ د پالیسیو د تعدیل او یوې نوې ستراتیژۍ د تدوین پر اړتیا بحث او خبرې وشي. د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ ز. په لومړیو کې دغه پروژه، د افغانستان د بین الافغاني خبرو او د اوسنیو لانجو او شخړو د ډینامیک په تړاو، د دغه هېواد د ګاونډیانو اندېښنې، تمې او هیلې او نادادمنتیا جوته کړه.

پورتنیو سوالونو ته درې اړخیزه کړنلارې ، په دې برخه کې مرسته وکړه، ترڅو د افغانستان او د هغه د ګاونډ په تړاو اروپایي بحثونه تازه او د معلوماتو پر بنسټ وي او د اصلي لوبغاړو په تړاو، پالیسي جوړوونکي د هغوی د انګیرنې او دریځونو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي. د دغه پروژې په لړ کې په سیمه او تر هغه هاخوا د پرلیکه غونډو له لارې، تر ۱۵۰ تنو زیاتو اوسنیو او پخوانیو چارواکو، کارپوهانو، د مدني ټولنې استازو په ګډون سره، هغوی وهڅول شول، ترڅو د افغانستان په صحنه کې د منفي اغېزو سره د شخړې کچې راټیټې کړې. د دغې پروژې تمرکز، تر ډېره په ځانګړې توګه دغو بحثونو کې د افغانستان پورې اړوندو مسایلو او موضوعاتو تمرکز دی او د هغو کسانو ترمنځ د تفاهم او باثباتو شبکو رامنځته کول او پیاوړتیا ده، چې د ټولو افغانانو لپاره د پرمختیا او هوساینې د پیش شرط په توګه، د تلپاتې او بادوامه سولې او ثبات په لټه کې دي.

دغه د پالیسي راپور د هغو ۹ لنډیزونو لنډیز دی، چې له افغانستانه د امریکا د وتلو پایلو، د افغانستان د سولې خبرو، بین الافغاني خبرو، د پالیسۍ موجودو ابزارو او د افغانستان په دننه او بهر د اصلي شریکانو او ذي ګټو لورو د ستراتیژیکو ګټو او ننګونو په تړاو بحث کوي. سربېره پر دې، د داسې موضوعاتو لکه «خوندي کولو»، «مسوولیت منلو» او «مشروط والی» تعریف کوي او څېړي یې، چې په تېرو لسیزو کې د افغانستان د پالیسي په ټولو اړخونو کې ترې یادونه شوې ده. په دې توګه دغه پالیسي، له سیمې بهر پالیسي جوړوونکو سره مرسته کوي، ترڅو د افغانستان د سیمې د سیمه ییزې امنیتې مجموعې په اړه پوهاوی ولري، او په دې برخه کې د اروپا د راتلونکو کلونو ښکېلتیاوې لارې چارې ترسیم کړي.، د فریدریش ایبرټ بنسټ له هغو ټولو کسانو او لورو څخه د زړه له کومې مننه کوي، چې په دې برخه کې خپلې نظریې او تجربې شریکې کړي او په یو ډول نه یو ډول په دغه پروژه کې ونډه لرلې دي. موږ د دغې پروژې په لړ کې د دغه راپور د لیکوالانو هر یو ښاغلي انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شاران ډېر زیات منندوی یو، چې د دغې پروژې له پیله خپل تحلیل او بصیرت یې له موږ سره شریک کړ.

**ډاکټر مګدلینا کرچنر**

د فریدریش ایبرټ بنسټ افغانستان ریسه

مارچ، ۲۰۲۱ز کال

# سريزه

متحـده ايـالات د ۲۰۲۰ ز کال پـه فـبروري کې لـه طالبانو يا هغـه ځواک سره، چـې پـه تېرو لسـيزو کـې تل هڅه کـړې چې په سـيمه کـې د لويديـځ ځواکونه حضـور پـای تـه ورسـوي، يو سـياسي هوکړه لېـک لاسـلېک کړ. دغـه هوکړه، او (د متحـده ايالاتـو تر هغه وروسـته ډيپلوماتيک فعاليتونـه او د ټرامپ د دورې تر پايه له افغانسـتانه د سرتېرو ايسـتنه)، د ولسـمشر غني په ګډون د افغانسـتان د ګـڼ شـمېر سـياسي مشرانـو، نړيوالې ټولنـې مرسـتندويانو، ناټـو شريکانو او سـيمه ييـزو هېوادونـو لـه جـدي نيوکو سره ملګـري وه. دغـه چـاره د دې لامل شـو، چـې پـه دې برخـه کـې ټـول لوبغـاړي، د امريـکا پـه دغـه هوکـړه کـې د احتـمالي بدلـون پـه پام کې ونيسي؛ خو داسـې ښـکاري، چـې بايـډن اداره تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسـته د متحده ايالاتو د افغانسـتان سياسـت او پاليسـۍ، ډېره زياته ناروښـانه ده.

دغـه موضوعـي راپـور، د تېـرو کلونو د پېښـو په رڼا کـې، د يوې داسـې پروژې موندنـې پـه ګوتـه کـوي، چـې د افغانسـتان پـه تـړاو د يـو شـمېر سـيمه ييـزو هېوادونـو، سـناريو جوړونـې او پاليسي پلانونې چـارې او همدارنګـه د ناټو او اروپايـي ټولنـې ښـکېلتيا څېـړي او پـه دې برخـه کـې، چـې متحده ايـالات له افغانسـتان څخـه وځـي، نـو له دغـه هېـواد سره د مالي مرسـتې کچه هـم راټيټه شي، دغـه موضـوع جوتـوي. دغه پروژه، د هغـو نهو ځواکمنـو دولتونو، چې د افغانسـتان ګاونډيـان دي يـا په دغه هېواد کې ښـکيل دي، د بېلابېلـو فعالانو او پخوانيـو چارواکو، د پاليسـيو مشرانـو او کارپوهانو ترمنځ يو بحث تسـهيل کړ. دغـه بحثونه او اضـافي تخصصي سلامشـورې، او همدارنګه د موضوع شـالېد تـه کتنـه او د نهـو پاليسـيو لنډيزونو لپـاره کتابخانه يـې څېړنه، چې د افغانسـتان او سـيمې پـه تـړاو، د هغوی سـياسي، اقتصـادي او امنيتي کړنـلارې او ننګونې پـه راتلونکـې کلونو کـې په ګوتـه کوي[1].




د سويلې آسيا سياسي نقشه. سرچينه: MAPSLAND

[1] د اروپايـي ټولنـې د مطالعـې وړ هېوادونـه او سـازمانونه يـو شـمېر لـه اروپـا بهـر هېوادونـه او همدارنګـه د اروپايـي ټولنـې يو شـمېر ناغـړي هېوادونو، روسـيې، ازبکسـتان، هند، پاکسـتان، ترکيـې، ايران، چيـن او متحده ايالاتـو ته شـاملېږي. د پاليسـيو دغـه لنډيزونه پـه دغـه لينـک کـې وګـورئ: https://afghanistan.fes.de/e/from-uncertainty-to-strategy

د ګاونډیو هېوادونو لیدلوری او تشویقي جوړښتونه متفاوت دي. د افغانستان د راتلونکي په تړاو د دوی ترمنځ ډېر زیات اختلافونه شتون لري، نو په پایله کې، د دغه هېواد له ډینامیک سره به د دوی د ښکېلتیا څرنګوالی راڅرګند شي. اروپایي ټولنه له خپلو څو غړو سره په رښتینې توګه د سیمه ییز ثبات په تړاو اندېښمن دي. په همدې حال، دا اندېښنې، د متحده ایالاتو په ګډو کې تباعد او په افغانستان کې د ناټو ماموریت په چوکاټ کې د واشنګتن نابرابر وزن ته په پام سره پېچلی دی. خو د لېږد په دغه دوره کې د ناډاډمنتیا شتوالی، د دې لامل ګرځي، چې یو شمېر اروپایي او سیمه ییز ځواکمن قدرتونه، په افغانستان کې د سیمه ییزو ګډو د همغږۍ توب په تړاو اندېښمن وي. همدارنګه دغه موضوع هم تر بحث لاندې نیسي، چې څرنګه کولی شو، په سیمه کې مخ پر زیاتېدونکو ننګونو ته رسېدنه وکړو. دغه لیدلوري زیاتره یې، د اوږدمهال ګواښ لرلید او زیرو سم تینګ کې رېښه لري. نورې ارزونې چې ښکاري په څو تېرو کلونو کې ارزول شوې، د متحده ایالاتو د پالیسۍ د بدلون په غبرګون کې دی. تراوسه پورې، یو شمېر مهم یې راڅرګندې شوې، او همدارنګه د افغانستان په راتلونکي کې زیات شمېر پانګه اچوونکو هېوادونو، ورته اندېښنې شریکې کړې او ان د کورنیو سیاسي محدودیتونو سره سره. د ټولو لپاره، د متحده ایالاتو او د هغه د شریکانو د احتمالي وتلو پورې اړونده ناډاډمنتیا، اوسمهال ښایي هغه لومړنۍ اندېښنه وي، چې له ۲۰۰۱ ز. کال راهیسې په سیمه کې د لویدیځ له ښکېلتیا راهیسې د یادو سیمه ییزو هېوادونو امنیت، سیاسي او اقتصادي ثبات اغېزمنوي.

دغه ټولیز احتمالات، په دې برخه کې د سیمه ییزو هېوادونو د ارادې نشتوالی دی، چې د افغانستان په تړاو هغو پالیسیو په برخه کې ژمن پاتې شي، چې په راتلونکې کې لا پسې پراخېږي. د تېرو دوه لسیزو په موده کې، د افغانستان ګاونډیانو د متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو پوځي ښکېلتیا په تړاو خپل وضعیت سمبال کړی دی. ګاونډیانو، نږدې ګاونډیان او مرستندوی هېوادونو تېر کلونه په ډېر انتظار تېر کړل، ترڅو متحده ایالات دولت خپل وضعیت په دغه هېواد کې تعریف او پلي کړي. په بل او ساده عبارت، هر ولس چې په سیمه ییزو چارو کې ښکېل وي، دې ته په پام سره، او دا چې تر کومه بریده – متحده ایالات به په خپلو مالي او پوځي مرستو کې څرنګه بدلون راولي، د دې شونتیا شته، چې خپله پالیسي د افغانستان لپاره په بیل ډول سره تغیر کړي. دغه وضعیت، په تېرو دوو لسیزو کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو پوځي ښکېلتیا له منشور څخه په سیمه کې د افغانستان د لید څرنګوالي ته په پام سره، د وړاندوینې وړ دی. د امریکا د وتلو پوتانسیل، په لومړنیو پالیسیو پورې اړوند بحثونه یې د نورو هېوادونو د نه همکارۍ په تړاو رامنځته کړې دی. په دې توګه دغه چارې یو شمېر هېوادونه هڅولي، ترڅو په خپلو شرط بندیو سره، له طالبانو او نورو افغان شریکانو سره په دیپلوماتیکې ښکېلتیا سره، تر متحده ایالاتو وروسته ګواښونو کچه په یو ډول نه یو ډول راټیټه کړي.

دغه ټولې پورتنۍ چارې، د سیمه ییزو ځواکونو اړتیا په ګوته کوي، ترڅو د هغو رسمي بحث او دیالوګ لپاره چې هرڅومره ژر ممکن وي باید پیل

> د متحده ایالاتو او نورو شریکانو د احتمالي وتلو په اړه د ټولو شکونو سره سره. دا شاید لومړی ځل دی چې په سیمه کې هیوادونه په ۲۰۰۱ کې د لویدیځ مداخلت راهیسې د امنیت ، ثبات او اقتصادي اړیکو په اړه یوې متفقې موافقې ته رسیدلي.

شي، نوي اقتصادي، دیپلوماتیک او امنیتي چوکاټ رامنځته کړي. د متحده ایالاتو پالیسي ته د بهرنیو لوبغاړو غبرګون، دغه پوښتنې رامنځته کړي، چې کوم هېوادونه کولی شي، د متحده ایالاتو تشه ډکه کړي، تر کومه بریده نوي سیمه ییز ډینامیکونه رامنځته کېدای شي. اروپايي ټولنه او یو شمېر غړو هېوادونو یې، په رښتینې توګه د سیمه ییز ثبات په اړه اندېښنه لري. په همدې حال، دغه اندېښنې د متحده ایالاتو په ګډو کې له انشعاب او په افغانستان کې د ناټو ماموریت په چوکاټ کې د واشنګتن نابرابر وزن سره پېچلې دي. خو دغه ابهام د لېږد په دغه پړاو کې، د دې اړتیا نه رادمخه کوي، چې اروپایي او سیمه ییز قدرتونه د بالقوه پراخو ننګونو په وړاندې د چمتووالي، په افغانستان کې د سیمه ییزو ګډو د همغږۍ او په دې برخه کې د هغوی ګډې ژمنتیا پر لاره خنډ وګرځي.



د پاکستان په شمال کې د خیبر دره. موټرونه د پاکستان پر لوري د خیبر له درې څخه د تېرېدو په حال کې دي. د خیبر دره، د پاکستان له پېښوره د لنډي کوتل او بیا د افغانستان تورخم پر لوري یوه حیاتي ارتباطي لاره ده. © جاناتان ویلسن

# د له کاره اچولو لړۍ

## د واشنګټن د جاذبې ځواک

د ۲۰۱۸ ز. کال په نیمايي کې، متحده ایالات په خپل سیاست کې بدلون راوست؛ دغه بدلون د افغانستان او سیمې لپاره پراخې پایلې درلودې. د خبرو مېز ته د طالبانو د کېنولو په تړاو تر یوې لسیزې هڅو وروسته، په نهایت کې متحده ایالات هغوی ته یو مهم امتیاز ومانه: د دوه اړخیزو خبرو لپاره، د کابل له ګډون پرته، له مخالفې او شورشي ډلې سره برخه اخیستل. د ناټو نور شریکان، هم په همدې لړ په دې برخه کې ځنګ ته وو او د دغو خبرو له جزییاتو څخه په کافي اندازه خبر نه وو. تر یوه کال مستقیمو خبرو وروسته بالاخره متحده ایالات او طالبانو د ۲۰۲۰ز. کال په فبرورۍ کې یوې سیاسي هوکړې ته ورسېدل. دغې هوکړې، پر یو مهالني جدول تمرکز درلود، چې پر بنسټ یې د ناټو د ماموریت ځواکونو په ګډون، ټول بهرني ځواکونه به له افغانستانه وځي. په بدل کې طالبانو ژمنه وکړه، چې له هغو تروریستي ډلو څخه به کوربه توب نه کوي، چې امریکا او متحدین یې د ځان لپاره ګواښ ګڼي، او همدا راز له هغوی به ملاتړ نه کوي، او له افغان دولت سره به خبرې پیلوي.

د ۲۰۱۹ ز. کال له سپتمبره، دواړه افغان ښکېلو غاړو، خبرې پیل کړې دي. خو لا تراوسه دغه خبرې کوم ځانګړی پرمختګ نه لري، او په لومړنیو پړاوونو کې قرار لري؛ دا په داسې حال کې ده، چې تاوتریخوالي په ټول هېواد کې شدت موندلی، چې د خبریالانو، مدني ټولنې فعالانو، قاضیانو او دیني عالمانو په ګډون، د ملکي وګړو لپاره مهلکې او وژونکې پایلې لري. له دې سره جوخت، د طالبانو او امریکا ترمنځ د ځواکونو د شاتګ په تړاو معامله یعنې د ۲۰۲۱ ز. کال د اپریل وروستۍ ورځ، نهايي مهالوېش، هم په چټکۍ سره د نژدې کېدو په حال کې دی. دغه ټول بدلونونه په یوه مهمه زمینه کې رامنځته شو: د افغانستان د موجودو شرایطو له په پام کې نیولو پرته، له دغه هېواد څخه د ځواکونو وتلو په تړاو د متحده ایالاتو د ولسمشر ډونالډ ټرامپ ښکاره لېوالتیا، د دې معنا ورکوي، چې د ځواکونو شمېر د ۲۰۲۱ ز. کال په وروستیو ورځو کې صفر ته به راورسېږي.

بڼه ۲. په افغانستان کې د امریکايي قواوو شمېر (۲۰۱۴-۲۰۲۱)




سرچینه: AP، سیګار، رویټرز

بڼه ۱. د ناټو د غړو هېوادو د عسکرو همکارۍ ۲۰۱۵-۲۱ (تاکنه)، د غوڅ ملاتړ ماموریت




سرچینه: ناټو

له هماغه مهاله، د متحده ایالاتو دغه سیاست، د افغانستان په دننه، د ناټو شریکانو، نورو سترو مرستندویو هېوادونو، متحدینو، د امریکا د بهرني سیاست محافلو له خوا تر نیوکې لاندې راغلی. دغه ټول مراجع استدلال کوي، چې دغه کړنلاره، د دولت د فشار اهرم له منځه وړي، او دولت دې ته اړ باسي، چې له یو ښکاره زیان سره خبرو ته کیني؛ په داسې حال کې، چې دغه چاره د طالبانو د نړیوال اعتبار او قانوني وال د زیاتوالي لامل ګرځي. ان له طالبانو سره د متحده ایالاتو د هوکړې کړنلارې پلویانو، بیا وروسته په ۲۰۲۰ ز. کال کې په دې برخه کې خپله اندېښنه څرګنده کړه؛ ځکه ټرامپ، د متحده ایالاتو اردو ته امر ورکړ، چې په ټولیزه توګه پرله پسې شاتګونو ته دوام ورکړي ( له ۱۳۵۰۰ تر ۸۶۰۰ سرتیرو او بیا تر ۴۵۰۰ سرتیرو او په پایله کې تر جنوري پورې تر ۲۵۰۰ سرتېرو پورې). د یو لړ شواهدو په شتوالي، طالبانو لا هم له متحده ایالاتو سره د هوکړه لیک پر بنسټ پر خپلو یو شمېر ژمنتیاوو عمل نه دی کړي.

له دې سره جوخت، متحده ایالات افغان دولت ته دغه سیګنالونه لېږل، چې د خپل مالي ژمنتیاوو لپاره، چې له ۲۰۰۱ز. کال راهیسې د افغان امنیتي ځواکونو د بودیجې د پوره کېدو لپاره حیاتي دي، تر بل هر وخت اوس لېوالتیا لري. د ۲۰۲۰ ز. کال په مارچ کې، په دغه هېواد کې د ولسمشرۍ ټاکنو له اختلاف ډکو پایلو په اړه د مخ په زیاتېدو شخړې او سیاسي بن بست په درشل کې، متحده ایالاتو ګواښ وکړ، چې که دغه ټاکنیزې او سیاسي شخړې په چټکي سره حل نه شي او د سولې د خبرو مقدمات پیل نه شي، نو د خپلو مرستو په کچه یو میلیارد ډالر کموالی به راولي. له بلې خوا، متحده ایالات د افغان دولت له خوا د ولسمشري دفتر په چوکاټ کې د ټول واک متمرکزولو باندې نیوکه وکړه. دغه څه هغه مهال خپل اوج ته ورسیدل، چې د جنوري او مارچ په میاشتو کې داسې راپورونه خپاره شول، چې متحده ایالات په بې سارې توګه افغان وتلیو سیاستوالو او طالبانو ته د لنډمهالي حکومت په تړاو خپل وړاندیزونه وړاندې کړي دي[۲].

## د دومینو اغېزو له منځه وړل

دغه څه، پر نورو مرستندویانو او افغان دولت ملاتړو، دوه اړخیزه اغېزه کړې ده. لکه څرنګه چې په تېرو کلونو مخ په زیاتېدونکې توګه څرګند شو، د ټرامپ دولت پرېکړه کړې، چې په بې ساري توګه له کابل څخه د خپل ملاتړ په کچه کې د پام وړ کموالی راولي؛ د اروپايي ټولنې په ګډون، نور مرستندویان په دې اړه هم خپل بحثونه پیل کړي وو، البته په خصوصي ډول، خو د اروپا په یو شمېر پارلمانونو کې په دې اړه عمومي بحثونه، نو دغه موضوع تر پوښتنې راوستل، چې څرنګه ممکن دی، د راتلونکو ملاتړو کچه محدوده شي. دغه چاره ان د ۲۰۲۰ ز. کال په نومبر کې، د ژنیو کنفرانس په درشل کې هم مشهوده وه، چې زیاترو مرستندویانو پکې د دغه کنفرانس د لغوه کېدو یا تر ۲۰۲۱ ز. کال پورې ځنډېدو په تړاو یې بحث کول (که چېرې شریکان د متحده ایالاتو د افغانستان سیاست د اوږدمهال جهت نیونې په تړاو ښه درک ولري، نو د خپلو پالیسیو لپاره به ښې پایلې وړاندې کړي). که څه هم د کنفرانس په پای کې د افغانستان په تړاو ژمنتیاوو کچه ټیټه نه وه، لکه څرنګه چې ډېریو په اړه یې وېره لرله؛ خو دغه ژمنتیاوې له څلورکلونه درې کلونو ته راټیټې شوې؛ په داسې حال کې متحده ایالاتو او بریتانیا یې یو کال ته راټیټه کړه (چې تر ارزونې وروسته د تمدید وړ دی).

له افغانستانه د امریکايي/ ناټو ځواکونو د وتلو مهالنی مهالوېش په تړاو د ناډاډمنتیاوو او ناروښانتیاوو زیاتوالی، د افغانستان د ګاونډیو او سیمه ییزو لوبغاړو ترمنځ د چټکو او زیاتو اندېښنو لامل ګرځېدلی، چې دغه چاره «سیمه ییز امنیتي ټولګه» لا پیچلې کوي. د بېلګې په توګه، روسیې، ایران او چین ټول له طالبانو سره د خپلو ډیپلوماتیکو اړیکو په کچه کې ښکاره زیاتوالی راوستی (خپل رسمي تعاملات، چې له څوکلونو راهیسې په ارام ارام ډول جریان درلود). روسیې، ان له یو داسې «بین الافغاني» کنفرانس څخه ملاتړ وکړ، چې پکې د طالبانو او افغانستان لسګونو سیاستوالو ګډون کړی وو، البته افغان دولت دغه چاره «خیانت»

---

۲-د پیشنهادي موقت حکومت پـه تـړاو د خلیلـزاد د کـره توضیحاتـو سربېـره، چـې د ولسـمشر غنـي او افغان دولـت لوړپوړو چارواکـو له جدي او سـخت مخالفـت سره مخ شـو، د امریـکا د بهرنیو چارو وزیـر بلیکن، ولسـمشر غنـي یـو ښـکاره لیـک واسـتاوه او پـه هغه کې دی یې تر فشـار لاندې راوسـت، ترڅـو هغه کړنـلاره په جدي توګـه تعقیب کړي، چـې متحده ایالات یې د سـولې لپـاره لومړیتـوب ورکوي.تومـاس ګیبونس نیف، داویدژوچینـو وګـورئ، «د ملګـرو ملتونـو پـه مـشري د سـولې کنفرانـس، د افغانسـتان مشر ته د یو لیـک په ترڅ کـې»، نیویارک ټآیمـز، د مارچ ۸ مـه، ۲۰۲۱ز. کال

ونوماوه[۳]. ان هند، چې له تاريخي پلوه له طالبانو سره له نژدې کېدو څخه وحشت لري، او له دغې ډلې سره يې اړيکه په بشپړ ډول خصمانه وه، نو طالبانو ته د نژدې کېدو په اړه ښکاره بحثونه کړي دي. پاکستان، د طالبانو د تاريخي او پناهځای او ملاتړ په توګه، د افغانستان په دننه مشرانو او سياسي رهبرانو سره د خپلو اړيکو په کچه کې زياتوالې راوستې ده. اسلام آباد د ۲۰۲۰ ز. کال په اکتوبر کې، د ولسمشر اصلي سيال عبدالله عبدالله، د بهرنيو چارو وزير حنيف اتمر، د ولسي جرګې رييس او د اسلامي ګوند مشر ګلبدين حکمتيار کوربه وو.

ټول پورتني موارد، له ناهيلي ډکې اغېزې لرلې دي - ان مشروعيت ورکول - په ځانګړې توګه، افغان دولت په دقيق ډول، هغه مهال چې غواړي، خپل مشروعيت په نړيواله کچه، له طالبانو سره د خبرو په لومړيو ورځو کې پياوړې کړي. دغه عبارت، د متحده ايالاتو له خوا وهڅول شو او د زياترو شريکو هېوادونو له خوا د ۲۰۱۹ او د ۲۰۲۰ په لومړۍ نيمايي کې تصويب شوه، خو «بين الافغاني» خبرې د طالبانو ترجيحي اصطلاح وه. دغه اصطلاح طالبانو ته اجازه ورکوي، چې له دې انکار وکړي، چې مخامخ افغان دولت سره ناست دي، هغه دولت، چې دغه ډله يې هېڅکله په رسميت نه دي پېژندلې. يو شمېر دولتونه تر دې هم پورته تللي دي: د ۲۰۲۰ ز. کال په وروستيو کې، څو اروپايي هېوادونو، د افغانستان د سياسي مشرانو ترمنځ د سولې متنوعې لړۍ د پرمخ بېولو په برخه کې، خپله لېوالتيا څرګنده کړه او پر ولسمشر غني فشار راوړ، ترڅو د سولې د معاملې فضا له عبدالله او نورو سره ووېشي. د ۲۰۲۱ز. کال په فبروري کې، کله چې د متحده ايالاتو له خوا د سولې لړۍ ودرول شوه، روسيې اعلان وکړ، چې مسکو هوډ لري، چې بين الافغاني خبرې په مسکو کې ترسره شي، هغه څه چې دوه کاله مخکې د ولسمشر غني او د ده د دولت چارواکو له خوا «خيانت» په نامه نومول شوی و[۳].

## د بايډن تر اداري لاندې هيله او که شک

داسې ښکاري، چې د متحده ايالاتو نوی دولت، د هغو پاليسيو او سياست د تغيير په درشل کې قرار لري، چې د ټرامپ او د ده د دولت د لوړ پوړو چارواکو له خوا په لاره اچول شوي وو، او لا هم کېدای شي، د افغانستان د محاصره شوي دولت (له پوځي، مالي او داسې نورو له پلوه) نه د لويديځ د ملاتړ يوه دريځه شتون ولري. خو د دغه راپور له خپراوي، د افغانستان د سياست او پاليسي په اړه د واشنګټن نهايي جهت لا هم ناڅرګنده پاتې وه، او دغه چاره يوازې کولی شي، د سيمې هېوادونو د سوءظن او شکونو کچه د متحده ايالاتو د نهايي موخو په تړاو لوړه کړي او تر ټولو ناوړه سناريو لپاره د هغوی چمتووالی کې زياتوالی راولي (لکه څرنګه چې په لاندې برخه کې توضيح شوې ده). سربېره پر دې، ولسمشر جوبايډن له مودو مودو راهيسې، په افغانستان کې د حداقلي سياست له اهدافو څخه ملاتړ کوي. د بايډن د ملي امنيت اوږدمهالې لېوالتياوې، او د ستونزمن اندازه کولو له تغيير سره جوخت، او په ورته وخت کې، د متحده ايالاتو او اروپا د بهرني سياست په پاراډايم کې ملموس بدلون، له دې ټولو داسې برېښي، چې متحده ايالات له افغانستانه په منځمهاله او اوږدمهاله توګه لاس اخلي. نو له افغانستانه د متحده ايالاتو په وتلو سره، اروپايي هېوادونه به الزاما له هغه څخه پيروي وکړي.

په واقعيت کې، په دې اړه د يو شمېر لوړ پوړو اروپايي چارواکو شاهدي ورکول، د دې ښودنه کوي، چې د افغانستان په تړاو بې صبرۍ د يوې سکې دوه مخونه منعکسوي: نه يوازې د افغان دولت د محدودې اغېزمنتيا او د فساد، قانونوالي او پرمختيا په برخه کې يې لږ پرمختګ څخه ناهيلي چارواکو د ستړيا کچه ورځ تر بلې مخ په پراخېدو دي. يو شمېر دغو چارواکو په خصوصي توګه اعتراف کړی دی، چې د بشرپالنې او بشري حقونو په تړاو د اروپايي دولتونو د اندېښنو له شتوالي سره سره، (او له دې څخه وېره، چې د سولې لړۍ د امريکا په پيلولو سره، د دواړو لپاره د وخامت زمينه برابره کړې) د مالي مرستو د لوړې کچې د دوام په تړاو به دا ستونزمنه وي، چې دولتونه په ښکاره په دې برخه کې خپل نظر اعلان کړي. تر امريکا وروسته، په افغانستان کې د ناټو ماموريت د تداوم لوژستيکي او امنيتي اندېښنو نه ها خوا، زياتره اوسني مرستندويان سياسي دلايل هم لري، چې دې ته لېوالتيا لري، چې په جلا توګه کار وکړي. د جرمني پارلمان د ۲۰۲۱ ز. کال په مارچ کې، په افغانستان کې د ناټو په ماموريت کې د برخه اخيستو لپاره، د دغه هېواد د ځواکونو شتون، د يو کال لپاره تمديد کړ؛ په داسې حال کې، چې يو شمېر چارواکو اعلان وکړ، چې د شاتګ لپاره لا هم موجود شرايط مناسب نه دي، خو د جرمني لومړۍ وزيرې انګيلا مرکل وويل، دغه چاره په دې پورې تړلې، چې متحدان (موخه يې متحده ايالات) يې اړين وبولي، نو جرمني د کار دوام ته چمتووالی لري.

۳- حميد شاليزی، «کابل، په مسکو کې د افغان سياستوالو او طالبانو ترمنځ جوړ شوی کنفرانس، يو خيانت ګڼي»، رويترز، د فبروري ۴ مه، ۲۰۱۹ز.

# سیمه ییز مسوولیتونه

لکه څرنګه چې په پورته کې روښانه شوه، د شاتګ لړۍ د دې لامل شوی، چې د افغانستان د سیمه ییزو څارونکو (او همدارنګه د افغانستان چاروکي) دا پوښتنه مطرح کړي: د سیمې هېوادونه هغه تشه به څرنګه ډکوي، چې له سیمې څخه د امریکا / ناټو ځواکونو د وتلو په پایله کې رامنځته کېږي او له مخکې موجود سیمه ییزې لانجې او ډینامیکونه، چې د هېواد سیاست ټاکي، به څرنګه وي؟ د سیمې د څو هېوادونو پوهانو او کارپوهانو، د دوو لسیزو په پرتله د لاسوهنې د پراخې نه لېوالتیا توصیفوي؛ خو د اندېښنو (لکه د سرحدونو کنټرول، تروریزم ضد مسلې، د سیمه ییز قدرت توازن) او د اقتصادي متقابلې اړیکې هر راز احتمالي ګټې د مدیریت لپاره لېوالتیا، کېدای شي دغه اندېښنې او ګټې د تولیزې سازماندهې د اصولو په توګه وي، خو نوي نوښتونو ته اړتیا لري.

## د شمالي پولو څار

په افغانستان کې د روسیې اصلي ګټه دا ده، چې د مرکزي اسیا هېوادونو (او تر هغه وروسته روسیې) ته، د تروریستي ډلو د جنګیالیو مخنیوی وشي. دغه لرلید، او په شلمه پېړۍ کې د لاسوهنې خونړی تاریخ سره یوځای، د مرکزي اسیا په اوسنیو سویلي برخو کې، د هر راز متعارفو امنیتي ژمنتیاوو څخه، مخنیوی کوي. د دې برخلاف، روسیه چې داسې ښکاري، چې د افغانستان د راتلونکي لپاره پر څو سناریوګانو کار کوي، د دې زیات احتمال شته، چې د دغه هېواد په شمالي ولایتونو کې پانګونه وکړي. د لویدیځ د ماتې په صورت کې، او د سیاسي بې ثباتۍ د رامنځته کېدو په صورت کې، روسیه د دې ټاکلو لپاره، چې کوم لوبغاړي، په نهایت کې په کابل کې به واک په خپل لاس کې واخلي، په مسلمه توګه په دې لټه کې به وي، چې د پولو په مسیر کې یوه بافر ارزان قیمته سیمه رامنځته کړي، چې ممکن هڅه وکړي، چې په داسې ټولنو کې چې د طالبانو د ملاتړ کمه لېوالتیا لري، نفوذ وکړي. په هماغه مهال، روسیه له طالبانو سره مخ په زیاتېدونکي توګه ښکېله شوې (هم په مستقیمه توګه او هم د ایران او پاکستان له لارې)، او د ساتنې ستراتیژۍ د پلیتابه په درشل کې و، ان له هماغه وخته، چې پر ۲۰۱۴ ز. کال د ناټو د ځواکونو د د وتلو اوازه خپره شوه. (د نورو جزییاتو لپاره لاندې برخې ته مراجعه وکړئ). دا لا روښانه نه ده، چې د مرکزي اسیا د هېوادونه کوم ډول سیاستونه تغییر موندلي، او په نهایت کې د مسکو د ملاتړ امنیت سره سم، منطبق دي؛ که څه هم اوسمهال په سیمه کې لومړنی غبرګون، کووید ۱۹ ته غبرګون دی. د دغه ویروس په بې ساري توګه خپریدا (په ځانګړي توګه د ایران له مرکز) څخه، تاشکند او نورې پلازمینې په چټکۍ او په بشپړ ډول سره، خپلې پولې وتړلې او افغانستان ته د توکو په ځانګړې توګه بیړنیو توکو له لېږد څخه تر یوه میاشت زیاته موده، ډډه وکړه. (دغه محدودیتونه یوازې هغه مهال، کم شو، چې په دننه د دوی په کرنیزه برخه کې فشار راغی). نو د سیاسي او امنیتي وضعیت د خرابېدو په صورت کې، شمالي پولې بیا هم کولی شي، هغه موقته ورته سناریو تجربه کړي. په همدې حال، د افغانستان د سولې پروسې په اړه د ازبکستان خوشبیني او ان په خپله خاوره کې د سولې د ناستو اسان چارې، د هغو ځوابونو د لړۍ ښودونکي دي، چې د هېواد شمالي ګاونډیان یې وراندې کوي.

## په سویلي آسیا کې د «Zero-sum» استراتیژۍ

روسیې ته ورته، که څه هم په هند کې، پالیسي جوړوونکي او شنونکي په منځمهاله توګه د افغانستان په سیاستونو کې ښکېلتیا په تراو خبرداری ورکوي، خو داسې ښکاري، د هند امنیتي مرستو لپاره سخت محدودیتونه شتون لري، چې د دغه هېواد تر پوځي حضور کم نه دی. د دې پرخلاف، نوي ډیلي، د لویدیځو قدرتونو د اړایستلو لپاره یو لړ روایات پیاوړي کړي دي، چې اوسمهال د ثبات او امنیت د ټینګښت په موخه افغان دولت پیاوړی کوي، په ځانګړې توګه هغه مهال، چې په سیمه کې تروریزم ضد یو رژیم ته اړتیا لېدل کېږي.

> سیمه ایزو ماهرینو او ساینس پوهانو ویلي دي چې د مداخلې په اړه بې علاقه ګی د تیرو دو لسیزو په پیمانه په پراخه توګه د پرتلې وړ دي ، مګر د اندیښنو اداره کولو او د احتمالي ګټو ترلاسه کولو کې دلچسپی د اقتصادي تکراري اړیکو بیا رامینځته کول هم شتون لري.

په پراخه کچه داسې ښکاري، چې په افغانستان کې د هند نفوذ له کوم ځانګړی سناریو پرته چې رامنځته شي، مخ په کمېدو دی. په پایله کې، د افغانستان په تړاو د دغه هېواد کړنلاره، په راتلونکي له ثبات سره مرسته ده، او پداسې ستراتیژیکه هڅه کې ده، چې په یو ډول نه یو ډول پاکستان ته زیان ورسوي. په همدې توګه داسې ښکاري چې پاکستان – د لویدیځ د مسوولیت او د افغانستان د سولې لړۍ پایلو سلب وروستی معیار – په افغانستان کې د هغو سیاستونو په لټه کې دی، چې د دغه هېواد له تلپاتي هدف څخه یې چې د هند له نفوذ څخه مخنیوی دی، ښېلول ستونزمن برېښي. هغه دریځونه چې د سویلي اسیا دواړه ولسونه د یوي بلې وندې په تړاو په افغانستان کې لري، نو دا کره ده، چې د هغه رغنده او اغېزناکې کړنلارې پر لاره بنسټيز خنډ دی، چې په پراخه کچه د سیمې له ثبات سره مرسته کوي.



افغاني صرافان راټول شوي دي، تر څو خارجي اسعار د اسعارو په بازار کې تبادله کړي.
کاپي رایټ: رویټرز/محمدشعیب

## د متحده ایالاتو وتل او د ایران ننوتل؟

په دې اړه شک او ګومانونه زیات شوي، په ځانګړي ډول په دوو وروستیو کلونو کې، چې په افغانستان کې پر بالقوه نیابتي ځواکونو د ایران نفوذ مخ پر زیاتېدو دی؛ په دې برخه کې د فاطمیونو له کنډک څخه ډېر نوم اخیستل کېږي، چې د تهران په ګټه په سوریه کې جنګېږي (خو همدارنګه دغه نیابتي ځواک د هېواد په سویل لویدیځه حوزه کې د طالبانو یو شمېر غرو او په شمال کې جنګي ډلو ته شاملېږي). په همدې حال، تر تولو نوی راپورونه د دې ښودنه کوي، چې د فاطمیونو جنګیالي د هزاره هغو قومي ملیشو کې هم تنظیم شوی، چې په دې وروستیو کې جوړ شوي دي. په افغانستان کې د ایران ښکېلتیا تاریخچه دقیقې څېړنې ته اړتیا لري . لویدیځ شنونکو او چارواکو تر دې مخکې ویلي و، چې د هرات او شاوخوا سیمه یې د ایران تر نفوذ لاندې راغلي، خو دغه نفوذ خپل محدودیتونه هم لري. ایران نږدې په دې برخه کې کره دی، چې د اړتیا په صورت کې به له نورو شیعه ګانو او تاجیک قومونو څخه ساتنه او ملاتړ وکړي او ان تسلیحاتي مرسته ورته برابره کړي[۴]، خو په دې اړه کم شواهد شتون لري، چې د دې ښودنه وکړي، ایران به هڅه وکړي، چې د خپلو پروژو او نیابتي ډلو ټپلو لړۍ هسې افغانستان ته پراخه کړي، لکه څرنګه چې یې په منځني ختیځ کې پراخه کړې ده. خو دغه چاره په هغه صورت کې صدق کوي، چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت خراب شي.

له دې سره سره، له افغانستانه په تلو سره د متحده ایالاتو د انعطاف منني له امله، ایران به دې ته متوجه وي، چې په کابل کې د متحده ایالاتو ستر ډیپلوماتیک نوښتونه او امنیتي اقدامات، به خپل دښمن له هېواده بهر په نښه وګرځوي. ایران پر یو کار بریالی کېدای شي، هغه دا چې تر هغه مهاله چې سیاسي ثبات د ایران ګټو په خدمت کې وي، له افغان دولت سره ښې اړیکې ساتي او ترې ملاتړ کوي. دغه ډینامیک همدارنګه تر یوه بریده د افغانستان په تړاو د روسیې او چین په دریځونو کې هم منعکس شوی دی؛ که څه دغه څه لږه حاده ده، خو له متحده ایالاتو سره د دوی په اړیکو کې له خصمه ډک بدلون، تر هغه ځایه، چې د مرکزي اسیا چارو کې د اغېزشیندلو هڅه یې کړې وي، زیاتوالی موندلی دی. دا لېږي ښکاري، چې د سیمې هېوادونه دې په افغانستان کې د ثبات جامع مسوولیت پر غاړه واخلي.

## د کډوالو جریانونه او څپه ییزې اغېزې یې

د افغان کډوالو، د کډوال کارګرو جریانونو او پناه غوښتونکو په ګډون، په افغانستان کې د حالاتو د خرابېدو او بې ثباتۍ د اصلي پایلو په اړه، د ګټو همغږي شتون لري. په اوسني سیاسي وضعیت د هر راز اختلال د رامنځته کېدو په صورت کې، یا د جګړې بنې د ناوړه کېدو یا پراخه کېدو په صورت کې، کولی شي د کډوالي یوه پراخه څپه رامنځته کړي، چې د سیمې په لر او بر کې جریان پیدا کوي او ان د اروپا مسیر هم پرې ډکه

[۴] همدارنګه وګورئ: سن انګل راسموسن او احسان الله امیري. «افغانستان د ترټولو ناوړه حالت یا متحده ایالاتو ځواکونو د شاتګ چټکتیا کې، پیاوړی کېږي»، وال ستریت ژورنال، د نومبر ۱۹ مه، ۲۰۲۰ز. د تاریخي لرلید لپاره: Ramazani، "Ideology and Pragmatism in Iran Foreign Policy،" Middle East Journal، Vol. ته مراجعه وکړئ، ۴ مه ګڼه، (۲۰۰۴) او بارت روبین، «د ایران او طالبانو پېچلې اړیکې ته یوه کتنه»، د ډېرو پر مخ جګړه، د سپتمبر ۱۶ مه، ۲۰۲۰ز.

وي. په دې توګه، د افغانستان او سیمې امنیتي کرنلارې او همدارنګه له اروپايي ټولنې او ترکیې سره يې اړیکې، ډېرې نږدې دي[5]. د افغانستان په ثبات کې د پاکستان یوه مهمه ګټه دا ده، چې مخ پر خرابېدونکی یو امنیتي وضعیت کولی شي د کډوالي پر لړۍ اغېزه ولري. د ایران په تړاو هم همداسې ده. پر دې بنسټ، په داسې حال کې، چې دواړه سیمه ییز ځواکونه له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتلو ته لومړیتوب ورکوي، خو دواړه په ښکاره، پر ناڅاپي او نامسوولانه پوځي شاتګ نیوکه کوي. له بلې خوا په دې صورت کې، د دواړو زیاتره بودجه، کډوالو ته د مرستې رسونې پروګرامونو ته ځانګړې کېږي.

## د سولې بهير او د امتیاز ترلاسه کول؟

په داسې حال کې، چې دسیمې هېوادونه یو هم دې ته چمتو نه دي، چې په ښکاره په هغه ونډه کې رادمخه شي، چې د افغان دولت د ملاتړ په برخه کې متحده ایالات ادا کوله، خو زیاتره يې د سولې پروسې په پرمخ بېولو کې د کره ونډې د ادا کولو په لټه کې دي. مسکو د خبرو اترو د بدل مسیر په اړه هم خپل نظر څرګند کړی، همدارنګه د ۲۰۲۱ کال په لومړیو کې بیا څرګند کړ، چې تر امریکا وروسته افغانستان لپاره باید نړیوال تسهیلات چمتو شي. تاشکند د افغان سولې خبرو په برخه کې د ونډې لوبولو لپاره لابینګ کړی دی؛ چې اوسمهال د متحده ایالاتو له خوا (چې جرمني، ناروې، اندونیزیا او قطر شاملېږي، چې په دې برخه کې بېلابېلې ونډې ادا کوي) پنځه تسهیل کوونکی شمېرل کېږي. اروپايي ټولنې هڅه کړې، چې د متحده ایالاتو په پرتله ځان متمایزه وښيي او د سولې په تړاو په خپلو پالیسیو او سیاستونو اختلافات جوت کړي. له دې سره، چې دغه چاره جانبي عوارض لري، خو داسې ښکاري، چې دغه څه، له افغانستان سره د ښکېلتیا په برخه کې د اروپايي اوږدمهال بدیلونه معرفي کړی دی (د نورو جزییاتو لپاره راتلونکې برخې ته مراجعه وکړئ).

د سولې پر خبرو دغه تمرکز، په ډېرو دولتونو کې د افغانستان پر پالیسیو د ناډاډمنتیا د تسلط کچه ده. د یو راتلونکي افغانستان د وړاندوینې په برخه کې، بهرنیو ځواکونو لنډمهالې ښکېلتیا ته لېوالتیا پیدا کړې ده. یعنې ډیپلوماتیکې هڅې اوسمهال، پر لنډمهالو پېښو تمرکز لري.



آلماني سرتېری کاپي رایټ: کولر

5 له دې پرته ترکیه، د نورو سیمه ییزو هېوادونو پر بېلګې به بدله شي: په داسې حال کې انقرې، په افغانستان کې د ناټو له پوځي ماموریت سره مرسته کړې، خو سیاسي پانګونې تر ډېره زیاته د ازبکو په قومي ټولنه کې ربنبه لري.

# د شرطونو اېښودل

د متحده ایالاتو ټاکونکي ونډه (او ترې په شا کېدل)، د دې لامل شوی، چې د سیمې هېوادونه او مرستندویان د افغانستان په تړاو مهالوېش ونه لري. دغه چاره، نږدې بهرني لوبغاري دې ته اړایستلی، ترڅو خپل اوسنی دریځ وساتي او د راتلونکي بالقوه سناریوګانو په ډله کې انعطاف منني وړاندې کړي او د هغوی له شتمنيو/ بدیلونو څخه د ګټو د بنه والي یا د خطرونو کچې د راټیټولو په موخه کار واخلي. افغان دولت هم همداسې کړی دی.

## د کابل امنيتي مرستې د چارو بېلګې متنوع کول

د ۲۰۱۹ ز. کال په لړ کې هغه مهال، چې متحده ایالاتو او طالبانو دوه اړخیزې خبرې ترسره کولې، د کابل د چارواکو اجماع د هغوی د اصلي دوست او وجودي دشمن ترمنځ د هر راز مهمې هوکړې شتوالی رد کړ. خو کله چې دغه خبرې د ۲۰۲۰ ز. کال د فبرورۍ په معاملې سره په قطر کې خپل اوج ته ورسېدې، او له هغه ځایه، چې د دغه هوکړې مقررې په پراخه کچه د افغان دولت لپاره، نامطلوبه ارزول کېږي، نو په کابل کې، د ناهیلي او د خیانت احساساتو په تړاو غبرونه پورته کېږي؛ بېرنی او حساسه پوښتنه دا ده: که متحده ایالات نور نه شي کولی، د باور وړ ملاتړ او متحد وي، نو کوم ځواک کولی شي، ځای يې ونيسي؟ د افغانستان مشرتابه هڅه کړې، ترڅو په داوه سره دغه پوښتنې ته ځواب وړاندې کړي. دغه اقدام، سیمه ییزې ډیپلوماسۍ ته نږدې کېدو په برخه کې، څو قطبي شوی دی، البته د هر ګاونډي هېواد لپاره په وړاندیزونو سره، چې بنایي وکړای شو، هغه هم د محافظتي پوښښ په توګه توصیف کړو. خو له دې سره سره، د کابل ډیپلوماسي او ښکېلتیا تراوسه پورې د سیمه ییزو قدرتونو په دریځونو کې کوم بدلونونه نه دی رامنځته کړي.

د افغانستان د یو شمېر چارواکو ترمنځ اټکلونه پر دې متمرکز دي، روسیه او / یا چین د امنيتي پرمختيايي مالي تمویلوونکو په توګه رادبره کېدای شي. د روسیې او چین د اقتصاد کچې ته په پام سره (د روسیې او چین په اړه د راتلونکو امنيتي پرمختيايي مرستو د تمویلوونکو په توګه) د افغانستان د یو شمېر چارواکو ترمنځ په دې برخه اټکلونه شته. دواړه هېوادونه، د بهرنیو مرستو په تړاو له بهرني سیاست سره د رښتینې برخورد له امله مشهور دي؛ د حکومتولۍ د معیارونو هېڅ کوم شرایط چې اروپایي ټولنې او نور لویدیځ هېوادونه یې ادعا کوي په راتلونکو کلونو کې به ستونزمن نه شي. له دې سره سره، مسکو او پېکنګ دواړه تراوسه پورې له ځانه د پام وړ تکي ښودلې، چې په زیاترو مواردو کې ان له کابل سره هم له ښکېلتیا او تعامل څخه ډډه کوي. د مسکو لپاره دغه ډول کنټرول، د پام وړ دی، کله چې د جګړې په سیمو کې د متحده ایالاتو پوځي شریکانو سره (لکه د کردانو په مشرۍ په سوریه کې د دموکراتیک ځواکونه) په تکړ کې واقع کېږي.

سربېره پر دې، مسکو په داسې حال کې د وسلو د څو ورو محمولو په ورکړې سره، له کابل سره خپلې پوځي مرستې پراخې کړې، خو د افغانستان زیاتره امنيتي ځواکونه موډل سازي کېږي - په داسې بڼه چې ټول د ناټو، متحده ایالاتو او لویدیځو ځواکونو په تسلیحاتي او تجهیزاتي بڼه سمبالېږي، چې د بل ملاتړ لپاره، ترې ملاتړ کول، ستونزمن وي[6]. د متحده ایالاتو او ناټو د کوچنيو پاتو ځواکونو پاتې کېدو تمې او هیلې له لاسه ورکولو وروسته، به دغه ډول پرېکنده او غوڅ تحول او بدلون ته زړه ښه کړي. خو له انتقادي پلوه، د مسکو او پېکنګ ریزرف، د هغوی د په خپلو محافظتي کړنو سره، سمون خوري. په داسې حال کې، چې دواړه (مسکو او پېکنګ) له هغه مهاله چې له افغانستانه د امریکا د وتلو هڅې مشاهده کړې، له طالبانو سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې ژورې کړې دي[7].

داسې ښکاري، چې دواړه پلازمېنې، په دې اړه شک او تردید لري، چې

هغه پوښتنه چې سمدستي او ښکاره ښکاري عبارت دی له: که چېرې متحده ایالات نور لوی ملاتړ کوونکي یا متحد نه وي ، " کوم بل قدرت به د دغه هېواد ځای ونیسي ؟"

---

٦ . د پاملرنې وړ ده، چې دغه ستونزې، د افغانستان د امنيتي ځواکونو د ستراتیژيکو عناصرو د ژورې څېړنې پرمهال، لا ارزښتمن کېږي: نوی هوايي ځواک او د ځانګړي عملیاتو کادر یې، چې تر ډېره له متحده ایالاتو او ناتو څخه بېلګه اخیستې ده.

۷ د یادونې وړ ده، چې له طالبانو سره د مسکو د اړیکې له بحثونو ډک مواردو څخه، دا هم راپور شوی، چې روسي استخباراتي کسانو ته طالبانو او نورو مخالفو ډلو ته نغدي پیسې او نورې مرستې وړاندې کړې دي. خو تر دې وروسته راپورونه، د دغو تورونو د سموالی په تړاو د لویدیځ استخباراتي ټولنې نه توافق ښيي.

د افغانستان اوسني دولت، کولی شي د لویدیځ د زیات ملاتړ له لاسه ورکولو سره، په روغ حالت پر خپل حال وپایي او څو کاله کېږي، چې په ښکاره بڼه د افغانستان د ترټولو ناوړه بڼه یا د دغه هېواد اوږدمهال امنیتي چاپېریال لپاره، بحث کړی دی. د روسیې او چین د خونديي کولو کړنې، د ۲۰۱۴/۲۰۱۵ ز. کلونو پورې اړوندو پالیسیو په ټاکلو کې، تر سترګو کېږي. له ۱۰۰۰۰۰ یونیفورم لرونکو سرتېرو څخه، ۲۰۰۰۰ ته د متحده ایالاتو راټیټېدل، د افغان په امنیتي ځواکونو کې د ظرفیت تشه او د کابل په موقعیت کې ستراتېژي زیانمنتیا ده. تر دې له څنډ وروسته، مسکو او پیکنګ (یا د روسیې تر امنیتي چتر لاندې د مرکزي اسیا هېوادونو سیمې)، سرحدي امنیتي اقداماتو په کچه کې د زیاتوالي په راوستلو سره، ګاونډ سیمې پیاوړي کړي دي، چې لا هم دغه لړۍ دوام لري. تمه کېده، چې پیکنګ په تېرو لسیزو کې افغانستان ته د خپلو اقتصادي لړۍ وغوځوي، خو په جامعه توګه له دې کار څخه ډډه وکړه. هغه امنیتي فضا چې له کلونو راهیسې پانګونې او متقابلې اړیکې ته زیان رسوي، اوسمهال تر ډېره کچې ناهیلي کوونکې ده.

## ډیپلوماتیکه ایستنه

نوروګاونډيو هېوادونه، د «ډیپلوماتیکې ایستنې» له لارې د افغانستان د سیاستونو په اړه ګام اخیستی دي، او د سولې او جګړې د مسیر تر روښانتیا مخکې، د لا ناوړه پایلو لپاره چمتو کېږي.

افغان دولت تر هغه خپل ډېر مشروعیت له لاسه ورکړي، چې د سیمې هېوادونه – له هند نه پرته – طالبانو ته ورکړی دی. د دغه مخالفې ډلې پیغامونه، په تېرو کلونو کې په دې اړه ډاډمنتیا ښودلې، چې «د انتظار په حال دولت» دی. په دې اړه لا تراوسه کمې نیوکې شوې دي، چې یو شمېر د قدرت ستې د ځانګړو هېوادونو لکه پاکستان، هند او ترکیې له خوا رادمخه کېږي. د افغانستان د ادارو او سازمانونو پر ځای، د قدرت د فردي ستو پر بنسټ دغه اړیکه، په اوسني سیاسي نظم کې د بې ثباتۍ د رامنځته کولو ورتیا لري؛ په داسې حال کې، چې د اسلامي جمهوري دولت مذاکره چي ټیم د سولې په خبرو کې د یووالي د رامنځته کېدو او له نړیوال مشروعیت د ملاتړ په لټه کې دي. نوې ډیلي، د محلي قدرت له ستیو سره د پاکستان اړیکې په تناسب، د ۲۰۲۰ ز. بلنې د پخواني ولسمشر د لومړي مرستیال او مارشال دوستم ته ځانګړې کړې وو. دغه څه، له کابل په ځانګړې توګه د کابل له امنیت ملي ځانګې او لوړپوړو چارواکو سره لکه د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح سره، د نوی ډیلي اړیکو ته د پیاوړتیا په موخه شوی دی.

اسلام آباد دې ته ادامه ورکوي، ترڅو هغه ونډه ادا کړي، چې پر ۲۰۱۹ ز. کال یې طالبان له متحده ایالاتو سره د خبرو مېز ته راوستل، همدارنګه په دې برخه کې هم لږ کار کړی دی، ترڅو پر طالبانو فشار راوړي، چې د تاوتریخوالي په کچه کې کموالی راولي. افغان چارواکي، له طالبانو سره د اړیکو د تغییر په برخه کې څه اغېزلرلی شي، افغان چارواکي دغه کم تحرکي له ښکاره خصومت او دښمنۍ سره برابر ګڼي. په همدې حال، له ډیپلوماتیک پلوه تر بل هر وخت د طالبانو اوسنۍ ښکېلتیا، نو اسلام اباد تر ډېره کمه فکر کوي، چې له دې ډلې سره یې اړیکې خرابې شي، په ځانګړې توګه هغو ګڼو سناریوګانو ته په پام سره، چې په هغو کې طالبان کولی شي، خپل سیاسي یا پوځي موقعیت کې ښه والي راولي. که څه هم د افغانستان له جګړو سره د پاکستان اړیکې بې ساري او بې مانده دي، خو له هغه څخه د ساتنې کړنلارې ماهیت یې، په ټوله د سیمې له ګاونډیو هېوادونو سره ورته دي.

داسې ښکاري، د سولې د حیاتي اړخونو په اړه د اروپایي ټولنې دریځ او همدارنګه د ۲۰۱۹ ز. کال د ولسمشرۍ ټاکنو له ترسره کېدو څخه ملاتړ، په ځانګړې توګه، د ولسمشر غني او دولت لپاره یې، د اروپایي ټولنې د سیاست خپلواکي توب ښیي. له افغان دولت سره د اروپایي ټولنې ډېرې افراطي او نژدې اړیکې، په کابل کې د یو شمېر کسانو او لورو د هڅونې لامل شوی، خو کومې ملموسې پایلې نه لري. د افغانستان په تړاو لومړنۍ پوښتنې او د ناټو د قوماندانۍ په اړه پوښتنې



د افغانستـان ولسـمشر محمـد اشرف غني د پاکسـتان لـه لومړي وزیـر سره د لیدنې پر وخت، ولسـمشر مانۍ، کابلل. رویترز/محمد اسـماعیل

او دا چې د اروپا بیل هېوادونه چې یې غوښتل، ان د متحده ایالاتو د شاتګ په صورت کې د ناټو دغه ماموریت ته دوام ورکړي، د مبهم ملاتړ په وړاندې کېدو سره، ځواب ورته وویل شي.

له متحده ایالاتو سره د طالبانو له هوکړه لیک څخه څه باندې یو کال پوره شوی، خو د مرستو د زیاتوالي لپاره هېڅ راز وړاندیز شتون نه لري (د هغو دلایلو له مخې چې په پورته کې ذکر شو. د نوامبر په میاشت کې د ژنیو

کنفرانس په لړ کې د یو ستر امریکایي کنفرانس خبره هم افشا کړه، چې د افغانستان په اړه د یوې اجماع رامنځته کېدو په تړاو جوړېږي، دا هغه څه و، چې د افغانستان دولت د ساتلو لپاره د اړتیا وړ حمایت کچې ساتنه، هم له ننګونو سره مخ کړي.

## د خوندي کولو په توګه مشروط کول

د اروپايي ټولنې دریځ د خوندي کولو یوه بله بڼه منعکسوي. په بروکسل او نورو اروپايي پلازمینو کې، د سولې د خبرو په تړاو د دولت د پرځېدو په تړاو اندېښنو سره ملګري وي، همدا راز د سولې داسې تړون لیک ، چې د طالبانو له قدرت څخه هرکلی وکړي به د بشرحقونو او نورو انساني حقونو په زیان وي. د طالبانو او متحده ایالاتو د تړون پرمهال، اروپايي ټولنې بېلابېلې بیانیې خپرې کړې دي، چې په هغو کې د هر راتلونکي لپاره، تر سولې وروسته افغان دولت، د ښځو او لږکیو د حقونو د ساتنې او همدارنګه شفاف او استازی حکومت په تړاو ټینګار شوی دی. په لومړي قرائت دغه څرګندونې له ولسشمر غني او جمهوري اسلامي دولت څخه د پراخ ملاتړ ښودنه کوي او همدغه چاره، د سولې پروسې په لنډمهالو بدلونونو کې ترسره کېږي. په همدې حال، د ستراتیژیکو اوږدمهالو پلان جوړونه کې، دغه دریځ اروپايي دولتونو ته اجازه ورکوي، ترڅو په اسانۍ سره له دغو مواردو څخه تېر شي: په هغه صورت کې، چې طالبان، د افغانستان اوسني دولت یا د واک د وېش په پایله رامنځته شوی ګډ ایتلاف په راتلونکي کې و نه شي کړای، خپل ټول شرایط پوره کړي، نو اروپايي ټولنه یا هر یو غړي یې د ملاتړ او مرستو د کچې راټیټولو لپاره به کافي توجیه ولري.

په بله معنا، مشروط دریځونه، په اوسمهال کې، د ناډاډمنتیا ښودونکې ده، خو همدارنګه طالبانو ته د مشروعیت ورکولو او د هغوی د راتلونکې ونډې په تړاو د لویدیځو پالیسیو جوړوونکو اندېښنې ښیي. اروپايي ټولنه یوازې نه ده؛ ان په متحده ایالاتو کې، چې اوسنی بهیر یې پرمخ یوړه او د طالبانو د نړیوال کېدو برخه یې درنه کړه، د ټرامپ دولت، له دغې ډلې سره د اړیکو د پرمختیا په برخه کې، له پراخو نیوکو سره مخ و. د متحده ایالاتو د کنګرې بانفوذه غړو، د افغانستان د داسې دولت سره د مرستو خبره وکړه، چې طالبانو ته هم شامل وي.

پر مشروط والي دغه تمرکز، د سختو شرایطو لپاره د سیمه ییزو هېوادونو جوتول هغه ټکي دي، چې د سولې د جدي هڅو راهیسې څرګند شوی دی. که څه هم نوي ډېلي کوم څه یې په روښانه بڼه نه دي اعلان کړي، خو که طالبان په افغانستان کې پر یوه غالبه ډله بدله شي، نو له کابل سره یې د همکارۍ او ملاتړ اوسنۍ کچه ناشونې برېښي. اروپايي ټولنې په ښکاره بڼه خپل شرایط بیان کړل او د هغو اصولو او معیارونو د ټولګې غوښتنه یې وکړه، چې د افغانستان هر راتلونکي دولت د مرستو د اوسنۍ کچې د ساتلو لپاره، باید پوره یې کړي – د طالبانو په پام کې نیولو سره له یو لړ اقداماتو سره، که څېرې هغوی په نوی دولت کې مشارکت ولري. له بلې خوا، لکه څرنګه چې پورته یې هم یادونه وشوه، روسیې او چین د نړیوالو مرستو او پرمختیا په برخه کې، پر ډېر لږ مشروطوالی مشهور دي. داسې ښکاري، ایران له طالبانو د تېرو پېچلو اړیکو له درلودلو سره سره، له هغوی سره په تفاهم رسېدلی دی. له دې پرته، د سترو سیمه ییزو قدرتونو وروسته، د مرکزي اسیا هېوادونه به ډېره زیاته همکاري وکړي. په راتلونکي کې د مرستې او اقتصادي همکاریو لپاره د پاکستان شرایط، رڼه او په بشپړ ډول محسوس نه دي، خو د طالبانو لپاره د جوړښتیزې ونډې په ګټه به وي.

پر ۲۰۲۱ ز. کال د بایډن د ادارې په راتګ سره، واقعیت دا دی، چې د متحده ایالاتو د بهرني سیاست حوزه، د ولسمشري د واک د لېږد په مهال، خوندي وو. له دې سره جوخت، چې د بایډن د انتقالي ټیم د بهرني سیاست پر موضوعاتو تمرکز وکړ، د وربښمې لارې څو تنو غړو، د یو تروریستي ضد ماموریت غوښتونکي شول، (او په پایله کې، په کابل کې د اوسني دولت د لږترلږه کچې په اندازه). له دې سره سره، واشنګتن به د نورو بهرنیو لوبغاړو په کچه به د خوندي کولو جوګه نه وي. طالبان تر دې مخکې دې ته منتظر دي، چې متحده ایالات د خپلو ځواکونو ایستل، د مې تر میاشتې نهایي کړي، او نړدې په دې برخه کې هېڅ ستونزه شتون نه لري، چې دغه ډله د سولې په داسې بهیر کې په ربښتینې توګه ګډون وکړي، چې داسې نه ښکاري، چې د بشپړ وتلو لامل شي. ان د بایډن دولت پرېکړه، د دوحې د بهیر د چټک پیلېدا په تړاو، پر خپل شریک – افغان دولت، د متحده ایالاتو ټینګار، او په مې میاشت کې د خپلو ځواکونو د وتلو په تړاو د خپل صریح دریځ له بیانولو څخه ډډه، پخپله د خوندي کولو یوه بڼه رامنځته کوي؛ خو په همدې حال، دا لېرې برېښي، چې دغه وضعیت د راتلونکي کال د جګړې پیش بیني شوی شدت، له لارې دوام پیدا کړي.

# نوې جوړښتونه؟

په پورته کې تشريح شوي جوړښتونه او رفتاري بېلګې، د افغانستان لپاره د نوې سياست په اړه د پرېکړو نيولو لړۍ ځنډولو په موخه، په سياسي ډيناميکونو کې تغييرات، د خبرو او همکارۍ لپاره، د سيمه ييز چوکاټ د بيرته رامنځته کېدو اړتيا ته اشاره لري.

له افغانستانه د متحده ايالاتو ځواکونو د وتلو په صورت کې، له دغه هېواده د ناټو او اروپايي اتحاديې د ملاتړ ځرنګوالي په اړه، په مشخصو محدوديتونو سره، پانګه وال هېوادونه بايد له ګاونډيو هېوادونو او کابل سره په درېو اړخيزو او څو اړخيزو خبرو کې د مشارکت په برخه کې، نوښتيز نوي مسيرونه د مرستې لپاره وړانديز کړي. داسې فرض کړئ، چې له متحده ايالاتو پرته، ناټو په دغه هېواد د حضور جوګه نه ده، په دې صورت کې، اروپايي ټولنه د امنيت په برخه کې د ملاتړ او د اصلاحاتو هڅونه، د پاملرنې وړ وګرځوي. اروپايي ټولنه تل توانېدلې، چې له تسليحاتي پلوه پوځي مرسته وکړي، دغه چاره ناټو او غړو هېوادونو ته يې اجازه ورکوي، چې امنيتي ستراتيژيکو کتنو ته رسېدنه وکړي. که بيا ونه وېشل شي، نو د مسووليت وېش، په کابل کې د لوېديځ د نفوذ د پام کموالی لامل ګرځي.

داسې وانګيرئ، چې اروپايي هېوادونه هيله لري، چې د افغانستان پر جګړو او سولې بهير اغېزه ولري. په دې صورت کې، هغوی اړتيا لري، ترڅو د سويل لوېديځ او مرکزي اسيا هېوادونو سره د خپلو اړيکو په اړوند کې، د افغانستان سياست شامل کړي، او په دې برخه کې نوي ابتکاري کړنلاره خپله کړي. تر دې مخکې، د يو شمېر باتجربه څارونکو له خوا سپارښتنه شوې، چې افغانستان کولی شي، له هند، پاکستان، ازبکستان، ترکيې او ان روسيې او چين سره د لوېديځ په اړيکو کې د يو برقي ميلې په توګه عمل وکړي[8]. په دغه هېواد کې د موجود وضعيت د ثبات د ساتنې په تراو جمعي اندېښنې کولی شي، د اروپايي ټولنې له خوا په خورا مهارت سره د پام وړ وګرځي او د نويو ځنډول شويو بحثونو د تسهيل لپاره، له دوديزو برداشتونو سره مرسته وکړي.

له دې پرته، دا ښکاره ده، چې نور هېوادونه لېواله دي، مخته ګام واخلي او د افغانستان راتلونکي ته خپلو ملي ګټو ته په پام سره شکل ورکړي. د دوحې د سولې خبرو د بندېدو يا ځنډېدو په صورت کې، له خبرو ځخه د ملاتړ لپاره د روسيې بلنه، په دې برخه کې يو جوت وړانديز دی، خو يوازينی وړانديز نه دی. په داسې حال کې، چې د سولې بهير د بيا پياوړتيا لپاره د متحده ايالاتو وړانديزونو ته د مارچ په مياشت کې د رسنيو پاملرنه زياته شوه؛ لکه د جګړې د دواړو لوريو ترمنځ په خبرو کې د منځګړيتوب لپاره، له ملګرو ملتونو څخه بلنه، نو له دې سره جوخت چين، د افغانستان د راتلونکي لوبغاړي په توګه د ملګرو ملتونو په لټه کې و. پر ۲۰۲۰ ز. کال د ملګرو ملتونو په امنيت شورا کې د چين استازي، د دغه هېواد امنيتي وضعيت بدلونونو ته په پام سره، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستندوی پلاوي اپډيټ احتمال او ان پوځي ښکېلتيا يې مطرح کړه. په داسې حال کې، چې دغه وړانديز هغه مهال، کومه پايله نه لرله، دغه څه کېدای شي د ملګرو ملتونو په راتلونکو ناستو کې، په ځانګړې توګه د جګړې وضعيت د خرابېدو په صورت کې، بيا راڅرګند شي. د افغانستان په اړه د جمعي اقدام لپاره د سيمه ييزو هېوادونو ځنډونو او د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پنځو دايمي غړو ترمنځ د اقدام نشتوالی وروستي وضعيت ته په کتو سره، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لپاره جوته، کره او سترې ونډې ته اړتيا شته. اټکل کېږي،

> فرض کړئ چې اروپايي هېوادونه غواړي د افغانستان کړکيچ او د سولې پروسې په حل باندې اغيزه ولري. پدې حالت کې، دوی ممکن دې ته اړتيا ولري، چې د سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو سره د دوی اړيکو کې د افغانستان په اړه د پاليسۍ تعقيبول په نوي او ابتکاري ډول ترسره کړي.

[8] که څه هم د څېړنې وړانديزونه د متحده ايالاتو په محوريت سره، يو ډيپلوماتيکه کړنلاې پر حول راڅرخېږي، خو د سيمه ييز بالقوه چوکاټ د يو ګټور کلي طرحې لپاره، «بارنت روبين»: «له افغانستانه د وتلو يوازې يوه لاره شتون لري»، بهرنۍ چارې، د دسمبر ۹، ۲۰۲۰، ته مراجعه وکړئ.

د چينايانو زيات ټينګار دا دی، چې له افغانستان سره د ملګرو ملتونو راتلونکې مرستې او ملاتړ، بايد په ښکاره د يو کمربند او يوې لارې کاري نوښت تاييد کړي، چې البته دا څوکلنه غوښتنه ده.

په مشخصه توګه، اروپايي ټولنه کولی شي، له هغو سيمه ييزو ځواکونو سره چې له متحده اياالاتو سره يې اړيکې خصمانه دي، خبرې پيل کړي، ترڅو د افغانستان په تړاو له ثمره ډکې پايلې ولري. د بېلګې په توګه، اروپايي هېوادونه کولی شي، له ايران سره په هره مهمه غربي خبرو کې، د دغه هېواد د راتلونکي او د سيمې د پرمختيا په اړه خبرې وکړي. په دغه پړاو له مخکې کوم پليت فورم شتون نه لري. په همدې حال، د ګډ کاري هراړخيز پلان په ژوندي ساتلو کې د اروپا ونډه او په دغه جبهه کې له متحده اياالاتو سره د ډيپلوماتيک تعامل په تسهيل کې يې ورتيا، کولی شي د افغانستان په اړه د لومړنيو خبرو د ترسره کېدو لپاره زمينه جوړونکې وي.

د افغانستان د سولې بهير په راتلونکو پړاوونو کې، يا د متحده اياالاتو د شاته کېدو په صورت کې، اروپايي ټولنه کولی شي، له روسيې سره د ښکېلتيا لپاره، په ښو شرايطو کې واقع شي – هغه هېواد چې تر دې مخکې هم د سولې په بهير کې د هرې تشې د ډکولو لپاره پر دوو پښو ناست دی. د مشخصو همکاريو لپاره څو شونې عملي مورده شتون لري او د داسې موضوع په اړه لکه افغانستان، دوه اړخيزې بنسټيزې خبرې، د اروپايي ټولنې او روسيې په اړيکو کې کومه مخينه نه لري. په همدې حال، چارواکي او څارونکي، د افغانستان په اړه د اروپايي ټولنې او روسيې تعامل ناشونې نه ګڼي (او دا، له دې پرته، د سيمې له هېوادونو سره د مسکو د بحثونو په پرتله، بې سارې ده).

اروپايي ټولنه کولی شي، د هند او پاکستان ترمنځ د نسبتا بې طرفه ځواک په توګه او د سرچينو او اتصال مديريت او زيربنايي سترو پروژو سره د مرستې د ورتيا په لرلو سره، د سويل په سويل کې ناصفرې اړيکې وهڅوي. د اروپايي ټولنې دوه اړخيزې اړيکې له مخکې شتون لرلې ده، اوسمهال پر افغانستان استناد کوي او کولی شي، ترې د ملاتړ کچه زياته کړي. دغه چاره، په نامستقيمه توګه لا هم د افغانستان د راتلونکي سناريو په بنسټيزه توګه تثبيتوي.

د مرکزي اسيا هېوادونه هم مخکې د اروپايي ټولنې له خوا په دوه اړخيزو خبرو کې ښکېل شوي وو، چې د افغانستان برخليک ته هم شامليدل. د اروپايي ټولنې ملاتړ او همکاري کولی شي، د يو ګټور اهرم په توګه،په داسې يو چوکاټ کې د مرکزي اسيا په وارډولو کې مرسته وکړي، چې د ګاونډيو هېوادونو ګټو ته هم رسېدنه کوي.

لا د اروپايي ټولنې او ترکيې تعامل د افغانستان په اړه پرمختيا نه ده موندلې. له دې سره سره، د لويديځ د پاشلتيا د دوام په صورت کې، د افغانستان چارې يوازې د اروپا او ترکيې اړيکو پورې اړوندېږي. ډيپلوماتيکې کانالونه رامنځته شول، ترڅو د سوريې د کډوالو ناورين ته رسېدنه وشي.




"استانبول – د آسيا زړه" د پروسې د بهرنيو چارو د وزيرانو اتمه ناسته، ديسمبر ۲۰۱۹.
سرچينه: Hoa.gov.af

د افغانستان په اړه له چين سره د اروپايي ټولنې ښکېلتيا، په بهرني سياست کې د هغوی کلي کړنلارې ترمنځ تشې ته په پام سره، او په ځانګړې توګه د افغانستان د بشرحقونو د راتلونکي په تړاو د اروپا د اندېښنې، هغه واقعيت دی، چې په دې برخه کې مطرح دی. له دې سره سره، اروپايي ټولنه، دا ثابته کړې، چې دې ته لېوالتيا لري او کولی شي، له چين سره خپلې اړيکې په نويو لارو چارو سره، ان د څو مياشتو په لړ کې، ټينګې کړي.

تر ټولو ستونزمنه ننګونه، د سيمې امنيت باندې د افغانستان د اغېزو په تړاو، د سيمې هېوادونو ناغېږې دی. نږدې ګاونډيان په ځانګړې توګه د خپلو نږدې پولو ثبات ته لومړيتوب ورکوي، ان د يو متمرکز افغانستان د ساتنې په بيه. دا جوته نه ده، چې متحده اياالات، اروپايي ټولنه له اړوندو هېوادونو څخه هره ډله، کولی شي، ګاونډيان وهڅوي، ترڅو خپل لومړۍ درجه اندېښنې د ډيناميک ثبات لپاره، هم د افغانستان په دننه او د سيمې هېوادونو په منځ کې، وځنډوي.

# د اروپايي ټولنې پالیسي جوړوونکو لپاره وړاندیزونه او سپارښتنې



واخان سيند. کاپي رايټ: ماکالو

- اروپايي ټولنه د متحده ايالاتو په پرتله، هم د طالبانو او د افغان دولت په تړاو، له کمې اغېزې او ځواک څخه برخمن دی، خو مخ پر ودې هغه سياسي مسووليت چې واشنګټن يې د سولې بهير د پيلولو لپاره په لاره اچولی، دی ټولو اغېزو ته شاملېږي. د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه له يو بل سره بايد داخلي توافق ته ورسېږي، او د افغانستان په سياست کې د پام وړ اهرم د رامنځته کولو لپاره کافي ديپلوماتيکه پانګه، له سيمه ييزو هېوادونو سره خپلو دوو يا څو اړخيزو تعاملاتو ته، ځانګړې کړې.

- د افغانستان په اړه له متحده ايالاتو سره د اروپايي ټولنې اړيکې، که چېرې متحده ايالات له اروپايي ټولنې سره د يوې پرانېستې او ګډې موخې له مخې، له اروپايي متحدينو سره اړيکې وپالي، نو اغېزناک او ګټور وي؛ که څه هم د هغوی د ترجيحي کړنلارو ترمنځ توپير شته. واشنګټن بايد د ماوراالنهر د پيوستون خپل پيغام ته رسېدنه وکړي.

- د ۲۰۲۱ ز. کال په پيل کې، د افغانستان په اړه د مسکو ټوليزې بيانيې، د مسکو د خبرو اترو (مذاکراتو) لرليد راڅرګندوي کوي، د دې واقعيت هم يادونه بايد وشي، چې دغه دولت د «منتظر دې وي» کړنلارو له لارې، تر ډېره بريده د متحده ايالاتو تر مشرۍ لاندې سولې خبرو کې، له فعالې برخه اخيستنې څخه ډډه کړې ده. اروپايي ټولنه بايد د افغانستان د ګاونډيانو څخه د زغم او تحمل دوام په برخه کې لابينګ وکړي، ترڅو د يو سوله ييز افغانستان د ملاتړ لپاره، نړيوالې هڅې سره همغږې ترسره شي.

د ګاونډيانو دغه بلنه، د «نه زيانمنولو» لپاره، بايد له افغان شريکانو سره ديپلوماتيک تعامل ته هم شامل وي. هغه هېوادونه چې له افغان لوبغاړو او سياسيونو سره د پراخو اړيکو د جوړولو په لټه کې دي، بايد د دې پرځای، له افغاني اړوندو ادارو سره لکه

د ملي مصالحې عالي شورا، چې زياتره وتلي افغان سياسيون پکې ګډون لري، بايد خپلې اړيکې ټينګې کړي.

- يو نړيوال د پام وړ تماس د افغانانو او نړيوالو پلويانو له خوا د پاکستان لپاره دا دی، چې طالبان تر خپل فشار لاندې راولي، ترڅو هغوی د سولې د جدي منلو او د تاوتريخوالي پای ته رسېدو لپاره چې هره باثباته سوله ورته اړتيا لري، غوڅ عمل وکړي. اروپايي ټولنه له اسلام آباد سره خپله سوداګريزه اړيکې، پر يو سياسي اهرم بدل کړي او د افغانستان د سولې په بهير کې ترې ګټه واخلي. دغه څه کولی شي، د متحده ايالاتو او انګليستان هڅې په بالقوه توګه زياتې کړي. دا د متحده ايالاتو او اروپايي ټولنې د اړيکو په نوې کولو کې هم مرسته کوي، کله چې د افغانستان د سولې په اړه خبرې کېږي.
- اروپايي ټولنه بايد په چټکي سره د يو نړيوال کنفرانس لپاره د متحده ايالاتو د وړانديزونو په اړه خپل داخلي اجماع کړه او د سولې بهير د هڅو د چټکتيا په موخه د يو موقت دولت ترتيب دې رادمخه کړي. د مرستو او ملاتړ وړاندې کېدو لپاره د اروپايي ټولنې ژور مشروطيت، چې پر ۲۰۲۰ ز. کال يې ترسيم کړه، کولی شي تر هغه ډېر ژر، چې وړاندوينه يې شوې، د غړو هېوادونو له خوا وازمويل شي.
- اروپايي ټولنه په بې ساري توګه کولی شي، د خبرو په منځګړيتوب هغو بېلابېلو شرايطو کې مهمه ونډه ولري، چې د سيمې او ګاونډيو هېوادونو له خوا وړانديز شوی، نو دغه ټولنه کولی شي په دې برخه کې حمايتي ونډه ولري. که د بهرنيو مرستو په تړاو د نا روښانتيا يو له هغو عواملو څخه دی، چې د افغانستان پر مشروعيت منفي اغېزه لري، نو اروپايي ټولنه کولی شي، نړيوالې خبرې اترې وهڅوي او د لا زياتې روڼتيا او له نړيوالو سره همغږي په لټه کې وي.

په دوحه کې د طالبانو او متحده ايالاتو ترمنځ هوکړه ليک کولی شي، د زياترو هېوادونو د اندېښنو او تروريزم ضد مسلو لپاره يوه وسيله وي، خو د بشرحقونو، حاکميت، کډوالو پورې اړوندو مسلو له اړخه بيا لنډ او مختصر دی. آيا نور چوکاټونه شته، چې د سيمې جمعي شرايط سره راټول کړي؟

- اروپايي ټولنه د افغانانو تر مالکيت لاندې او د افغانستان په مشرتابه د سولې يوې پروسې څخه ملاتړ کړی دی، او په بېلابېلو پړاوونو کې له متحده ايالاتو سره خپلې ترجيحي کړنلارې شريکې کړې دي، همدارنګه پر دې هم ټينګار کړی، چې په نړيوالو خبرو اترو او ډيپلوماتيک تعامل کې چې په راتلونکو کلونو کې به ترسره شي، تر ډېره زياته کچه بايد د افغانانو غوښتنو ته رسېدنه وشي. په ملي کچه، اروپايي ټولنه کولی شي، په افغانستان کې د ټولپاټې سولې له رامنځته کېدو څخه ملاتړ وکړي او ان پياوړی يې کړي.
- په ملي کچه، اروپايي اتحاديه کولی شي په افغانستان کې د ټولپاټې سولې لپاره خپل ملاتړ زيات کړي. د دې پراختيايي تمويل حد او ساحې به دا نوښتونه د نړيوالو هڅو سره وصل کړي.

# سرچينې

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

افغانستان تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته: د چین د سیمه ییزو لوړو هیلو او امنیتي پایلو لپاره؟ . انډریو واټکینز ، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. - ۵ پاڼې = ۱،۳ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

د سولې رامنځته کولو منځګړی؟ د افغانستان د سولې په پروسه کې د ترکیې رول او اهمیت . انډریو واټکینز ، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. - ۵ سیټین = ۱،۳ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس :، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

په ختیځ ګاونډ کې ټول آرام دي؟ د تحول په حال افغانستان سره، د ایران مخ پر بدلېدونکې اړیکې . انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. – ۴ پاڼې = ۴،٦ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

د افغانستان په وړاندې د ازبکستان دوه ګوني ستراتیژي . انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. - ۴ پاڼې = ۴،٦ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

یوه نوې کړنلاره؟ تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته اروپا، هند او افغا نستان. انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. - ۵ پاڼې = ۵،۱ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

ګاونډي په نوي عادي حالت کې؟ پاکستان او افغانستان تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته . انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. - ۵ پاڼې = ٦ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

ناسته؟ روسیه، افغانستان او اروپا . انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۱. – ۴ پاڼې = ۵ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۱

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

له ۲۰۲۱ ز.کال وروسته په افغانستان کې د اروپا ښکېلتیا ناڅرګندتیا، پراګماتیزم، او دوامداره ګډون . انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۰. - ۵ پاڼې = ۵،۳ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۰

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

اندریو واټکېنز، تیمور شاران

افغانستان او تر اتلانتیک ها خوا اړیکې د متحده ایالاتو او اروپایي ټولنې د همکاریو راتلونکی . انډریو واټکینز، تیمور شاران. - [کابل]: د فریدریش ایبرټ بنسټ، افغانستان، ۲۰۲۰. - ۵ پاڼې = ۷ ام بی ، د پی ډی اف فایل - (د پالیسی لنډیز) بریښنایی ای ډی؛ کابل اف ای اس: ، ۲۰۲۰

د خپرونې د ډاونلوډ لینک

## د لیکوالان په اړه::

اندریو واټکینز، د شخړو او منازعې او د افغانستان د سولې لیدلورو یو څېړونکی او شنونکی دی، چې ډېر زیات د منازعو په اړه کار کوي. هغه تر دې مخکې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان، بشري ټولنو، متحده ایالاتو دولت سره او د یو خپلواک څېړونکي په توګه کار کاوه.

ډاکټر تیمور شاران، د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د افغانستان د پالیسي جوړونې د برخې مدیر او د عامه پالیسي د څانګې استاد دی، چې تر دې مخکې د بحران نړیوالې ډلې سره د شنونکي په توګه کار کاوه

چاپ

کاپي رایټ: ۲۰۲۱ فریدریش ایبرټ بنسټ افغانستان

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

مسؤول شخص:
ډاکټر مګدلینا کرچنر / د فریدریش ایبرټ بنسټ افغانستان ریسه

د خپرېدو سپارښتنه:
info@fes-afghanistan.org

د فریدریش ایبرټ بنسټ له لیکلي اجازې پرته، له هغو ټولو چاپي نشریو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري، چې د یاد بنسټ له خوا خپاره شوي دي.

په دغه نشریو کې بیان شوي نظریې لزوماً د فریدریش ایبرټ بنسټ د لیدلوري منعکسوونکي نه دي.

فریدریش ایبرټ بنسټ په جرمني کې تر ټولو پخوانی سیاسي بنسټ دی. دغه بنسټ د جرمني د لومړني ولسمشر، فریدریش ایبرت په نامه نومول شوی، چې د جرمني لومړنی ولسمشر وو او په دموکراتیک ډول ټاکل شوی وو. د فریدریش ایبرټ بنسټ له ۲۰۰۲. ز کال راهیسې په افغانستان کې د سیمه ییزو سازمانونو په همکاریو سره کار کوي. د دغو پروګرامونو موخه، له ملي تر سیمه ییزه کچې د دموکراتیکو جوړښتونو پیاوړتیا، د ځوانانو د سیاسي مشارکت د کچې زیاتوالی، د ښځو او جنسیتي برابري د ځواکمنتیا، پیاوړتیا او مسلکي پرمختیا، په رسمي او نارسمي اقتصاد کې د ټولنیز عدالت، رسنیو، او د سولې او پرمختیا لپاره د سیمه ییزو همکاریو پیاوړتیا ده.

EFQM
Committed to excellence